مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد.


لیکوال: هانس کریستین اندرسن
ژباړن: آصف بهاند


۲۰۱۸/۰۲/۲۸

# سیوری

## (SKYGGEN)

## H. C. Andersen

### دریمه برخه




دانشمند وویل:
«ډاډه اوسه، ژبه کوم چې چا ته به نه وایم.»
وروسته له دې خبرو سیوری په غرور او ځانښودنې سره کېناست، د دې له پاره چې دانشمند ته خپل قیمتي چرمي بوټان وښيي، خپلې پښې يې د دانشمند پر نوې سیوري ور کېښودې او نوی سیوری چې د هغه په مخ کې د سپي غوندې د پښو پر سر غلی ناست و او په ډېر ځیر سره يې غوښتل پوه شي چې د دوی له خبرو نه څه ډول پایله راوزي او پخوانی سیوری غواړي څه ډول ځان ازاد کړي.
سیوري وویل:



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

«کولای شي اټکل وکړې چي په هغه کور کي څوک و؟
هلته د يوې ښکلې او با عزته نجلی کور و چي شعر نوميده او زه دري اونی هلته پاتې شوم. دا درې اونۍ ما ته داسي وې لکه درې زره کلونه مي چي ژوند کړی وي. هلته مي ډير شعرونه ولوستل او له ياده مي کړل او وتوانيدم هر څه ووينم او ورباندې پوه شم.
دانشمند چغې کړې:
«شعر!
هوکې ته رېښتيا وايې. هغه په ښارونو کي د يوه ځنګ ناستي (ګوشه نشين) په ډول ځان را څرګندوي. ما يوازې يو ځل، د يوې شيبې له پاره ليدلې، هغه هم هغه مهال چي خوب مي سترګي راپټولي، هغه د خپل کور په انګړ کي د سپيده داغ په شان ځليدله! ښه اوس به يې پاتې کيسه ته وکړې، کله چي له دروازې نه هغې کوټې ته ور ننوتې، څه دي وکړل؟»
سيوري وويل:
«کله چي کور ته ورننوتم، ځان مي په يو سر پټي ځای کي احساس کړ، هيڅ ډول رڼا نه وه، هلته لکه ماښام نيمه تياره وه، خو ډير ژر مي سترګي د سر پټي ځای په دوو خواوو کي، په هغو کوټو ولګيدې چي دروازې يې خلاصي وې او په ځنګ کي يې يوه سالون ډوله کوټه وه چي لړ روښانه وه»
دانشمند د سيوري د خبرو په منځ کي ور ولويد او وې ويل:
«ښه ودې نه ويل چي هلته دې څه وليدل؟»
سيوري وويل:
«ومي ويل هلته هر څه چي وو، ټول مي وليدل، خو تاسو نه يوه هيله کوم، هغه دا چي نور ما ته د «ته» خطاب مه کوئ!»

دانشمند وويل:
«زه له تاسو نه بښنه غواړم، د پخواني دود له مخي مي تاسو ته د «ته» خطاب وکړ، نه د بې پروايئ او ټيټ شميرني له مخي! تاسو حق په جانب ياست. اوس ووایاست چي هلته مو څه وليدل!»
سيوري وويل:
«ومي ويل چي ټول شيان، هوکې ما هلته ټول شيان وليدل او ومي پيژندل!»
دانشمند وويل:
«د هغه کور تالارونه څنګه وو؟ هغه کوم شنه او تاند ځنګله ته يا کومي سپيڅلي کليسا ته او يا له ستورو ډک کومه شنه اسمان ته نه پاتې کيدل؟»
سيوري وويل:
«سره له دې چي زه تالارونو ته ور دننه نه شوم، خو له سر پټي ځای نه مي وليدل، ټول دغه شيان چي تاسو ياد کړل، هغوی ته پاتې کيدل. که تاسو هغه کور ته ورننوتي وای، نه مو شوای کولای چي ما غوندې غټ سړی شئ، خو زه غټ سړی شوم. ما هلته وکولای شول چي خپل پټ استعداد کشف کړم او ومي شول کولای چي په دې پوه شم چي څومره له شعر سره مينه لرم، مګر هغه وخت چي په تاسو پسې وم، په دې هکله په هيڅ هم نه پوهيدم.
زه به د لمر ختو او لمر پريوتو په وخت کي له تاسو نه ډير غټيدلم او کله به چي سپوږمۍ وه، هم به له تاسو نه غټ ښکاريدم؛ خو هغه وخت ما ځان نه پيژانده. هغه ورځ چي تاسو له ځان نه لرې کړم، بيخي غټ شوم. زه مو په ناڅاپي ډول لوڅ لپړ پريښودم او ما ته مو شا کړه او په خپله مخه ولاړئ؛ کله مي چي ځان په هغه حالت وليد، په رښتيا ډير وشرميدم.
زه جامو، بوټانو، خولۍ او نورو ټولو هغو شيانو ته چي يو انسان اړتيا لري، اړ وم. ډير ځلې به مي ځان له خلکو پټاوه. البته تاسو ژمنه کړيده چي دا خبرې چي تاسو اورئ، نه به يې چا ته وايئ او نه به يې چيرې ليکئ او نه به يې چاپوئ.
ډير ځلې به د ورځې له خوا پټيدلم او د شپې له خوا به د سپوږمۍ رڼا ته په کوڅو کي ګرځيدلم، پر ديوالونو به ختلم او بيرته به راښکته کيدلم او له کړکيو نه به مي کورونو ته ورکتل. ما  داسي څه وليدل چي هغه چا نه شوای ليدلی.
ما په نارينه وو کي، په ښځو او ګلاليو ماشومانو کي داسي  شيان وليدل چي اټکل يې هم نه شي کيدلای، ما کولای شول چي راتلونکي هم ووينم.
هر ښار ته به چي رسيدم، خلک به له ما نه تښتيدل، البته هغوی به هم له مانه ډاريدل او هم يې خوښيوم. د خپلو ډيرو زدکړو تجربې په پار به استادانو او پوهانو د خپل استاد په توګه ومنلم، خياطانو به جامې را ته ګنډلې، اوس ځو جوړې ډير ښه کالي لرم. د بانک رئيس، د سرو زرو ډيرې سکې راته راوړې. هوکې، په دې ډول و چي زه دې بڼې ته را واوښتم.


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي.  په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ  maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليرلو مخکي په ځير و لولـئ

له دې ټولو سره، سره، زه ستاسو مننډوی یم. دا هم زما پته! لمر ته نږدې زما کور دی، د اوریها په ورځو کولای
شئ ما په کور کې وګورئ!»
د دې خبرو له ویلو نه وروسته سیوری جګ شو او له دانشمند څخه رخصت شو.
سیوری یو کال وروسته بیا د دانشمند پوښتنې ته راغی.
دانشمند په قهر سره وویل:
«هر څه چې د ښیګڼو او ښکلاوو په باب لیکم، لږ پاتې دی چې نا هیلی شم.»
سیوري وویل:
«تاسو تیروتنه کوئ! وګورئ زه څومره چاق او تندرسته شوی یم. زه تاسو ته وړاندیز کوم چې یو بل سفر وکړئ.
زه هم غواړم په اوړي کې په سفر ولاړ شم. که مو خوښه وي، کولای شئ زما د سیوري په ډول له ما سره ولاړ
شئ، زه به ډیر خوشاله شم چې د سفر یو ملګری ولرم! حتی کولای شم ستاسو د سفر مصارف هم پریکړم.
دانشمند وویل:
«ورو! تاسو ډیره لویه نیولې ده.»
سیوری له خپل ځای نه جګ شو او وې ویل:
«هو! ژوند همداسې دی!
تل همداسې و او تل به همدا شان وي. تاسو سره ژمنه کوم چې دا سفر به تاسو ته ډیر ګټور وي. که مو خوښه وه
چې زما سیوری شئ، ما خبر کړئ!
سیوري دانشمند پریښود او د باندې ووت. دانشمند ورځ تر بلې ستړی او مړاوی کیده. حال یې ورځ په ورځ خرابیده.
خبرو او لیکنو ته یې چا پام نه کاوه، خلکو به ورته ویل:
«تاسو داسې شوي یاست لکه سیوری!»
او دی به د دې خبرو په اوریدو سره ریږدیده.
سیوری یو ځل بیا د دانشمند لیدلو ته راغی او وې ویل:
«ستاسو د ستړیا او ناروغۍ چاره، د سمندر په غنډه کې د تودو اوبو چینې دي. زما هم ویښتان تویږي، دا زما ستونزه
ده او غواړم هلته ولاړ شم! راشئ چې زه مو د سفر خرڅ درکړم او تاسو زموږ د سفر څرنګوالی ولیکئ. دا به زموږ
دواړو له پاره یوه ښه بوختیا وي. راځئ د تیر په شان لکه دوه یو زړي دوستان په سفر ولاړ شو.»
بالاخره دانشمند راضي شو، د سفر وسایل یې سره برابر کړل او تودو اوبو او د سمندر څنډې پر لوري وخوځیدل،
خو دا ځل سیوری مشر لاربنود او دانشمند سیوری و.
هر چیرې سره یو ځای وو، د لمر تر رڼا لاندې، یو مخکې او بل وروسته روان وو، خو هیڅکله نه سره بیلیدل.
سیوری ډیر ښه پوهیده چې څنګه د خپل پخواني خاوند ځای خپل کړي. څنګه چې دانشمند د یو مهربانه زړه خاوند
و، څکه راضی و او د خپل پخواني سیوري له غوښتنو څخه نه خوابدی کیده.
یوه ورځ دانشمند سیوري ته وویل:
«موږ تل سره یو ځای وو او یو ځای سره لوی شوو، اوس بیا له کلونو، کلونو وروسته سره یو ځای او دوستان شولو
او همسفره هم یو؛ تاسو خو به مخالفت نه لرئ چې وروسته له دې تشریفات یوې خواته کړو او په دوستانه فضا کې
یو بل ته د «ته» خطاب وکړو؟»
سیوري چې اوس د دانشمند د بادار حیثیت درلود، وویل:
«تاسو ډیر ساده او بې ریا خبرې کوئ، زه هم غواړم خپل نظر په ډاګه ووایم:
تاسو یو پوه سړی یاست او پوهیږئ چې نړۍ له عجایبو ډکه ده. داسې خلک شته چې که په یوه خړه پاڼه لاس ووهي،
ناروغه کیږي او داسې کسان هم شته دي چې که یوه کوکه په یوې شیشې او یا تیرې وتکول شي، نارامه کیږي؛ زه
هم په دې نه خوابدی کیږم چې څوک د«ته» خطاب را ته وکړي. دا توری ما وړوکی او ذلیلوي او هغه ورځې را
په یادوي چې له تا سره وم.
له دې سره بیا هم زه حاضر یم چې وروسته له دې ستاسو د خوښی له پاره، تاسو ته د «ته» خطاب وکړم، په دې
ډول به ستاسو نیمي غوښتنې ترسره کړم.
له هغې ورځې نه وروسته سیوري خپل پخواني څښتن ته «ته» غږ کاوه، خو دانشمند اړ و چې سیوري ته د «تاسو»
توری وکاروي.
کله چې هغوی دواړه د تودو اوبو چینو ته ورسیدل، له نورو خلکو سره مخامخ شول چې له نورو هیوادونو څخه
راغلي وو. د هغوی په ډله کې یوه شهزادګۍ هم وه چې له یو ډول ناروغۍ څخه رنځیدله. هغې کولای شول هر څه
وګوري، کله چې شهزادګۍ سیوری ولید، په خپل درد پوه شوه او خپلو ملګرو ته یې وویل:
«دا سړی وايي چې د ویښتانو د تویدو د مخنیوي له پاره دلته راغلی دی، خو دی دروغ وايي، د ده نیمګړتیا د سیوري
نه درلودل دي، غواړي خپل سیوری پیدا کړي!»
یوه ورځ شهزادګۍ د قدم وهلو په ترڅ کې له سیوري سره مخامخ شوه.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولئ



د ځیرتیا (کنجکاوي) له مخې یې له سیوري سره خبرې پیل کړې. څنګه چې تعارف یې نه خوښیده، پرته له مقدمې یې سیوري ته وویل:
«ستاسو اصلي ستونزه دا ده چې نه شئ کولای ځانته سیورى پیدا کړئ!»

دریمې برخې پاى


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ